ولي الله ملکزی

۲۰۱۷/۰۴/۲۸

# د ثور اتمه، بریا که غمیزه؟

د اعلیحضرت نادرشاه په پاچاهي کې د شینوارو په هسکې مینې کې د حضرت ګل په نوم یو سړی اوسیده چې بیرې ځنې او غټې جنده جندې بریتونه یې درلودل. دی د خدای یو مسکین او د پولې پړک ته ناست وو خو په کلو او باندو کی په لاپو خان مشور وو. هر چیرې به چې کوم قتل وشو، نو ده به په بریتو ګوتې کش کړې او وبه یې ویل چې ځوانان هم پکې وو. بله ورځ د دوئ پخپل کلي کې ځوک ووژل شو، په منډه کور ته لاړ او بریتونه یې پاک وخریيل. بیا جومات ته ورغی او د نغري غاړې خوا ته غلی کښیناست. چا ورڅخه وپوښتل چې حضرت ګله څه وایې چې دا ستا کلیوال به چا وژلې وي او دا بریت دی ولی خریيلي؟ نو ده خوارکي ځواب ورکړ چې خدایږو دا مړی خو ما ندی کړی او دا بریت می ځکه کل کړل چې ددی نه را ته غم جوړیده.

نن د ثور اتمه او د یو ملت د ارادې د بریا ورځ ده. همدا پرون، هورا والو او پرولتاریانو د لور او څټک تر سور بیرغ لاندې د کور، کالي، ډوډۍ، تورې ارتجاع او د مرګ بر امپریالیزم د نارو سورو ورځ ولمانځله. خو نن د شنو بیرغونو په سیورې کې د جهاد وارثین، د مقاومت او غنیمت ټیکداران او د راشده خلافت علمبرداران، د خپلې غلبې شعارونه ور کوي، د تکبیر نعرې زمزمه کوي او پخپلو سینو د تاریخي سوبې مډالونه وهي.

نن ورځ که له یوې خوا د شهامتونو او سربندونو د لمانځلو ورځ ده، نو له بلې خوا، دا ورځ د شپیتو زرو کابلیانو د وژلو، لوټلو او بی کوره کولو د ویر او ماتم ورځ هم ده. د ثور اتمه د ډیرو لپاره، د ویاړونو، نازونو او امتیازونو ورځ ده. خو دا ورځ د هغو سلګونو پاک لمنو پیغلو لپاره چې د عصمتونو جنازې یې پورته شوې، سینې یې غوڅې شوی، په کوتره شوو ککریو یې رقص مرده شوی او په غوږونو یې میخونه ټک وهل شوې، بیا د تلین او ماتم ورځ ده.

دا به یوه لویه جفا او د تاریخ د مسخ کولو یوه رسوا هڅه وي که څوک د مجاهدینو له قربانیو او سربندنو سترګې پټې کړي. ځکه د روسی ښکیلاک او د خلق او پرچم د سرې خورو ګوندونو په وړاندی جهاد، پاڅون او مبارزه، یوه ملي او دیني وجیبه وه. روسان په چک چکو او تشو سورو نارو باندی ندی وتلي، بلکې همدا د مجاهدینو د سرو وینو اوغازیانو د تورو شرنګ وو چې د کمونیزم طلسم مات شو، سره امپراطوري دړې وړې او انساني ټولنه یې له شره خلاصه شوه. خو دا ویاړ یواځې د هغه مجاهد ندی چې ټوپک په اوږه، پکول په سر او په سنګر کی یی په وچه ډوډۍ شپه سبا کړیده. بلکې هر چا چې د کمونستانو پخلاف که یواځې د مرده باد شعار هم ورکړی، د لوږې اعتصاب یې کړي، په سړک یی لاریون کړی، د خپل ولس د ملاتړ پخاطر یې یوه مقاله لیکلې او یا یې د کوم شهید د کونډې او یا مهاجر کیږدۍ ته سر ښکاره کړی، دوئ ټول د دی افتخار وارثان ګڼل کیږي.

کله چې د هجرت په اتم کال کې د رسول علیه السلام تر مشرۍ لاندې لس زره په تورو، زغرو او نیزو سمبال غازیان د مکې د فتح په مهال د بیت الله حرم ته داخلیدل، نو حضرت پیغمبر د خپلې سپرلۍ (اوښې) د پاسه سر ښکته نیولی او له ډیرې تواضع او عاجزۍ یې ځمکې ته ټیټ کتل. نه یې غرور وکړ او نه یې د کوم مشرک او کوم شخصي مخالف د وژلو، ترلو او بی پته کولو قومنده ورکړه. ولی پینځه ویشت کاله وړاندی د غوایي پدې ویاړمنې ورځ، مجاهدینو کابل ته د داخلیدو په شپه، ترهر څه لمړی د ارګ، وزارتونو او دولتي دفترونو په قالینو، یخچالونو او چوکېو باندی تالان جوړ کړ. د یوې اونۍ دننه یې عسکري قشلې چور، الوتکې او ټانکونه کباړ او د خلکو په شخصي ملکیتونو یې ناتار جوړ کړ. ما پخپله ولیدل چې پکول په سر مجاهد نما داړه مارانو، څرنګه د اطلاعاتو او کلتور د وزارت او احصائي د ریاست سرې غالۍ په تنظیمي ډاټسونو کې وتښتولې او رسمي دوسیې او د ارشیف معتبر اسناد یې په دهلیزونو کی وپاشل.

د مکې د فتح په ورځ حضرت پیغمبر (ص) ته د هغه د تره زوي، د هغه زوم او د هغه د ښي لاس یار او مشاور علي بن ابی طالب راغي او د بیت الله د سرپرستۍ او د کعبې د کونجي غوښتنه یی وکړه چې ده ته یی حواله کړي. خو پیغمبر پوښتنه وکړه: عثمان بن طلحه چیری دی را یی ولئ! عثمان راغي او رسول الله ورته پخپل لاس د کعبې کیلي ورکړه او ورته یی وویل چې دا به د تل لپاره له تاسو سره وي مګر دا چې کوم ظالم یی په زور له تاسو واخلي. له نیکه مرغه چې همدا نن هم د بیت الله کونجي د دغه قدرمن صحابي د کورنۍ او لمسیانو په واک کې ده.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خو ځینو جهادي مشرانو خپل بی سواده او بی کفایته خپلوان، تنظیمي یاران او د سمت او ژبې په خم کې رنګ شوي افراد په لوړو څوکیو اومنصبونو کې وګمارل. هغه څوک یی سفیران کړل چې د ډیپلوماسۍ الفبا یی په ژوند کې هم نه وه لوستې. د هغه چا په اوږو یی د جنرالۍ دوه او درې ستوري وټومبل چې د دولسم ټولګی په درشل یی لا قدم نه وو ایښی  او یو جهادي جناب خو دومره په جوش کی راغي چې د شمال د ملیشو سردار ته یی د خالد بن ولید لقب نذرانه کړ.

نن که مجاهدین ګیله کوي چې ګواکی له صحنې ویستل شوي او د دوئ سیاسي حضور او ونډه له پامه غورځول شوې، نو دوئ ته پکار ده چې د خپل شکایت جواب د سورت انفال په شپږ څلویښتم آیت کی ولټوي، هلته چې الله تعالی فرمایي: ( وَأَطيعُوا اللَّهَ وَرَسولَهُ وَلا تَنازَعوا فَتَفشَلوا وَتَذهَبَ ريحُكُم وَاصبِروا إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصّابِرين ـ د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړئ او پخپلو منځونو کې شخړې مه کوئ، کنه نو ناکام به شئ، باد او دبدبه به مو لاړه شي. صبر وکړئ او الله د صبر کونکو په خوا کې دی).

که مجاهدینو پخپلو منځونو کې اختلاف نه وای کړی، یو بل ته یی د ټوپک شپیلۍ نه وای نیولی، د خپلو همسنګرو ورونو پخلاف یی د قاتلو او مجرمو کمونستانو سره نامقدس ائتلافونه نه وای کړي، د خلکو جایدادونه یی نه وای لوټلی، د ملت شتمنۍ یی نه وای کباړ کړی، نو اوس به نه معلوم الحاله پرچمیان وزیران او مشاورین وو، نه به دوئ له صحنې تجرید شوي وو او نه به د خپل میړني ملت او اسلامي امت په سترګو کې دومره ټیټ راغلي وو.

د ۱۹۹۴ کال د جنورۍ د میاشتې غالبا دریمه اونۍ وه، د کابل غرونه او رغرونه سپینو واورو پوښلي وو او د ښار هر دیوال په مردکو سورۍ سورۍ او کړکۍ په پلاستیکونو پینه پتره شوې وې چې د یو بوږنونکي او وحشت ځپلي ښار ژوندۍ تابلو وه. زه د خپلې مجلې د یوې ګڼې لپاره د مجاهدینو د یو ډېر مهم مشر کور ته د ځانګړې مرکې پخاطر ورغلم. مرکه ښایسته اوږده شوه او دغه جهادي مشر... پخپلو تیروتنو او د مجاهدینو په نادودو د اعتراف په ځای به یی ماته بیا بیا ویل چې (مونږ د یوې نړیوالې دسیسې ښکار شوي یو، دا د یهودو او نصاراوو او ځینو ګاونډیو هیوادونو ګډ پلان دی چې مونږ ناکام شو).

ما ور څخه وپوښتل چې آیا فکر کوئ د خیرخانې د کوتل تر شا او د چارآسیاب په کروندو کې یهود او نصارې یا هندوان او روسي کماندویان ناست دي چې په کابل د اور او باراتو دا باران ورویې؟ نو دوئ ځواب راکړ چې: هو دوئ په فزیکي ډول دلته نشته خو بړیخي یی ماشه په لاس دغه جګړه پر مخ بیایی. د مرکې په پای کې مې بیا وپوښته چې صاحبه! ددې ستونزې جرړه چیرته او اصلي عامل یی څه دی؟ نو دغه جناب عالي نه یوه کړه او نه یی دوه، ویی ویل ( مونږ ته دا غم د جهاد له کلمې نه جوړ دی، مونږ مجاهدین یو او غواړو چې یو خپلواک اسلامي حکومت ولرو) نو ماته د حضرت ګل شینواري د بریتونو د غم خبره را په زړه شو.

د یو منلي اصل په توګه، د ثور اتمه څمونږ د معاصر تاریخ یوه مهمه ورځ او ددی مسلمان او باتور ملت د شاهکاریو مظهر دی. خو له بده مرغه، د یو نیم ملیون پاکو شهیدانو د وینو په بیه ګټل شوې لوبه د نړیوالې دسیسې ترڅنګ، د څو تنو جهادي مشرانو د بی ځایه غرور او هوسونو قرباني شوه. او څومره به ښه وي که پینځه ویشت کاله وروسته، دغه مشران د ښکاري ګوربت (عقاب) په هکله د ناصر خسرو د قصیدې دا بیت د شهیدانو او غازیانو د روح د تسکین پخاطر د اعتراف، ملامتۍ او ناغیرۍ په توګه زمزمه کړي چې:

چون تیر نگه کرد و پَر خویش، در آن دید
گفتا، زکه نالیم، که از ماست که بر ماست



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ